مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد انور آخر
۲۰۱۹/۰۸/۱۹

# پاچا امان الله د انګرېزي استخباراتو په توطیو کې

## دویمه برخه

### د هېواد د خپلواکی د سلمي کلیزی په پار

دا چې په شمال کې وضع خرابه وه، نو په کال ۱۹۱۸ز، [سم یې ۱۹۲۸ز کال دی] کې حکومت د سقاؤ سره تړون لاسلیک ... او له امله یې په شمالي سیمو کې د ده عزت او اعتبار لا پسې زیات شو، نو کله چې سقاؤ خپل حالت ته متوجه شو. لږه موده وروسته یو شمېر خانان او غله د ملاویس الدین په کلا(کلکان) کې د شپې لخوا سره راټول شول او د سقاؤ زوی یې د افغانستان د پاچا په توګه ونوماوه او دستار یې پر ملا وروتاړه...[خلک دستار په سر تړي دوی یې په ملا تړي!] او په سبا ورځ د سقاؤ زوی د ځایي حکومت په مرکز، سرای خواجه باندې برید وکړ، حکومت یې لوټ او ساتونکي یې بې وسلې کړل او وروسته د برید په موخه د کابل پر لور روان شو او سید حسین یې د چاریکارو او جبل سراج پر لور ولیږلو... .

کله چې په شمال کې وضعیت په پوره توګه خراب شو نو پاچا امان الله خان د سقاؤ زوی ته یو مکتوب ولیکلو او قرآن یې مهر او د بلدیې رئیس احمدعلي خان په لاس یې وروليږه، په مکتوب کې لیکل شوي وو:«موږ له تا سره کار نه لرو، که زموږ سره یو ځای شې نو هر ډول مرستې به درسره وکړو، د عسکرو مشر به وټاکل شي، څه چې وغواړې موږ به یې درکړو ... .» د سقاؤ زوی یې په ځواب کې وویل: «اوس مهال دولت په سختۍ او د فشار لاندې دی زه هېڅ شی نه غواړم او حاضر یم چې د امیر صاحب د مخالفینو پر وړاندې جګړه وکړم، په دې شرط چې(۵۰۰) میله توپک او له هر یو توپک سره(۵۰۰) مرمی او(۲۰۰۰) آسونه راکړئ، ما او سید حسین ته د میاشتې(۳۰۰۰) افغانی او زموږ نوکرانو ته (۱۵۰) افغانی راکړل شي.»

د سقاؤ د زوی ټولي غوښتنې ومنل شوې وسلې او پیسې ورکړل شوې، کله چې د بلدیې رئیس ټول توکي د سقاؤ زوی ته ورتسلیم کړل، د بلدیې رئیس یې په کوټه کې بندي کړ او سقاؤ په خپله امان الله خان ته ټلیفون وکړ، ویې ویل: «اعلیحضرته! زه د بلدیې رئیس یم، د سقاؤ زوی مې په زور ونیولو او بندي کړی مې دی، اوس د هغه سره څه وکړم؟»

اعلیحضرت په دې ګمان چې دا به په ریښتیا د بلدیې د رئیس غږ وي ویې ویل: «هغه فوراً ووژنه.» وروسته له هغې چې سقاؤ د امان الله خان دا خبرې واوریدلې د امان الله پر خلاف یې جګړې پیل کړې ... .

دا مهال د ډیورنډ کرښې سره نږدې د انګرېزانو او هندي ځواکونو (۱۱۰،۰۰۰) پوځ ځای پر ځای شو او په (۱۹۲۸ز) کال کې د کرښې سره نږدې د انګرېزانو او هندي قطعاتو مانورونه پیل شول، د دغو نظامي قواوو مانورونه د افغانستان د ختیځو ولایاتو د بغاوتونو سره هم زمانه وو، تر څو له یاغیانو څخه رواني ملاتړ وکړي او د یاغیانو د مورال د لوړولو لپاره یې وکاروي او د امان الله خان پر وړاندې چې له حده زیات خپلواک او ځان غوښتونکی پاچا ؤ د فشار په توګه ترې کار واخلي.

په داسې حال کې چې په کابل کې د سقاؤ سره جګړه روانه وه د انګرېزانو الوتکې، بې له اجازې د افغانستان فضأ ته ننوتې او د کابل په ښار باندې یې پاڼې وغورځولې، په پاڼو کې اخطار ورکړ شوی ؤ، چې په کابل کې زموږ پر سفارت او قونسلګریو باندې برید ونه شي... د جګړو په جریان کې د انګرېزانو دوولس الوتکې کابل ته راغلې او له کابل څخه یې د خارجیانو ښځې وایستلې. (د انګرېزانو دا ډول کړنې د سقاویانو د مورال د لوړیدو سبب شوې.)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

او ورسره، مشهور انګرېز جاسوس ډګروال لارنس په پېښور کې د الوتکو د میخانیک په توګه د (تامس شاو) په مستعار نوم باندې خپل کار پیل کړ، په دې اړه روسی لیکوال ډاکټر ویکتور ګریکوویچ کارګون... وایي چې د ډګروال لارنس شتون په سیمه کې د یاغیانو له کړنو سره تړاؤ لري... .
د هند او اروپا مطبوعاتو د لارنس د سیاسي ژوند تفصیلات خپاره کړل او د لارنس ډول ډول افکار او نظریات یې د ده د کړنو په اړه، چې د [ډیورنډ] کرښې سره نږدې یې ترسره کول، نشر کړل... ، (امان افغان) اخبار، د لارنس په اړه د هیواد خلکو ته ولیکل: ډګروال لارنس چې د افغانستان خاورې ته ننوځي ودې نیول شي. ډاکټرویکټور زیاتوي: دا ډول کړنې د افغانستان په پېښو کې د انګریزانو لاس لرل لا پسې تقویه کوي.
له بلې خوا انګرېزي شېطانانو د پاچا شخصیت په یوه بله طریقه باندې ترور او بدنام کړ داسې چې د ډیورنډ کرښې په دواړو خواوو کې د ملکې ثریا نیمه لوڅ انځورونه چې د انګرېزانو له خوا په بې حجابه توګه جوړ(مونتاژ) شوي وو خپاره او د ملایانو لاسو ته ورسول چې په پښتنو باندې یې خورا ناوړه اغېز وکړ، ډېری پښتانه یې د پاچا په وړاندې راوپارول.
لنډه دا چې سقاؤ له درو سووکسانو سره چې نه توپ او نه الوتکې ورسره وې پر کابل باندې یې برید وکړ او په ځواب کې یې د دفاع وزارت یوازې(۸۰) تنه، هغه هم د دولت د مخزنونو ساتونکي د کابل د دفاع لپاره راټول کړل.
د سقاؤ له زوی سره ډېری کسان تاجکان وو او خپلو ټولو خلکو ته یې د کابل د چور او چپاول غږ کړی ؤ، هر ډول توپک، لورونه او بېلونه او نور توکي یې د کابل د خزانو او مغازو د لوټولو لپاره له ځانو سره راوړي وو... .
د سقاؤ زوی په داسې حال کې کابل اشغال کړ چې یوازې یو تن هوایي پیلوټ ووژل شو، هغه داسې چې د سقاؤ کسانو له پیلوټ څخه د هغه تفنګچه غوښتله پیلوټ خپله وسله ورنه کړه او د سقاؤ د غلو څخه یې دوه تنه وویشتل او په خپله هم د کابل په چوک کې ووژل شو.
سقاؤ چې کابل ته ننوت، په کابل کې د انګریزانو سفارت ته ورغلو او ډاډ یې ورکړ، چې د انګریزانو د سفارت ساتنه به کوي، دا لیدنه د لمر په شان ښکاره ده او کله چې سقاؤ په جګړه کې ټپي شو د انګریزانو په سفارت کې یې درملنه هم وشوه.
د سقاؤ له زوی څخه د انګریزانو ملاتړ چې دا مهال په پټه توګه ترسره کیده، اوس چې کابل د سقاؤ له خوا ونیول شو، په کابل کې د انګریزانو سفیر سرفرانس همفریز د سقاؤ څخه غوځ او ښکاره ملاتړ وکړ، سفیر خپل حکومت ته داسې ولیکل:«امان الله خپل چانسونه له لاسه ورکړي دي ... همفریز ټینګار کولو چې د پُستي کڅوړې دې له امان الله څخه وګرځول شي او د سقاؤ زوی ته دې ورکړل شي، نوموړي ټینګار کولو چې د سقاؤ د زوی استازي دې په ار- اې- اف الوتکه کې په هند کې نادرخان ته ورسول شي او دا غوښتنه یې هم کړې وه چې د امان الله استازي چې نادر ته ورغلي وو له هند څخه وباسي ... .
کله چې امان الله خان په کندهار کې ؤ د کوزو پښتنو مشران چې په سرکې یې فخر افغان، خان عبدالغفار خان (پاچا خان) ولاړ ؤ غوښتل یې کندهار ته ولاړ شي او له امان الله خان څخه مالي او مانوي ملاتړ وکړي خو انګرېزي حکومت دوي ته اجازه ورنه کړه چې له ډیورنډ کرښې واوړي او انګرېزانو په یوه او بله پلمه تېر ایستل او د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې (له پېښوره تر ګوټې) پورې لالهاند او سرګردانه ګرځېدل ... .
نه یوازې دا چې انګرېزانو د امان الله خان د پاچاهۍ پر خلاف وو بلکه د ده د وژلو(ترور) په لټه کې هم وو چې څو ځله یې د پاچا د ترور هڅې وکړې چې له هغو څخه، د حمل په ۱۳۰۸/۲۸، کال په غزني کې یو تن ملا د دُرانیو او غلجیو تر منځ د ځینو موضوعاتو د یادولو په پلمه د پاچا خیمې ته ورغلو او په پاچا باندې یې د تبر (تبرګي) برید وکړ، خو ملا ونیول شو او کله چې وپلټل شو د هغې د کتابچې له پوښ څخه چې له ده سره ورسره وه د انګریزانو لخوا یوه تصدیق پاڼه وموندل شوه او وروسته په هغه خپل تبرګي باندې ووژل شو.
په پای کې پاچا امان الله خان کابل پرېښود کندهار ته ولاړ، د کابل د نیولو په موخه یې یوه ناکامه هڅه وکړه، داسې چې په غزني کې د سلیمان خیلو پښتنو سره چې د شوربازار د حضرتانو یو تن نورالمشایخ مجددی له خوا لمسول شوي وو او مجددي چې د انګرېزانو له خوا رالیږل شوی ؤ مخ شو. په دې اړه فخر افغان پاچاخان چې هغه مهال په ډیلي کې ؤ داسې لیکي:«په دغو ورځو کې موږ ته په ډیلي کې مالومه شوله چې پیرنګیانو د شور بازار د حضرت ورور[نورالمشایخ مجددی] چې په هندوستان کې په کاټهیاواړ کې اوسي راغوښتی او د هغه پاوندو پسې چې د هغه مریدان دي د امان الله خان بر خلاف افغانستان ته لیږي، ځکه چې پیرنګیانو ته مالومه شوي وه چې د خلکو څه نا څه همدردي له امان الله خان سره پیدا شوي ده او هسې نه چې هغه چېرته کامیاب شي.
هغه وو چې غازي امان الله خان چې له لوی نړیوال ښامار انګرېز سره جګړېدلی ؤ خو له خپلو نادانو او جاهلو خلکو سره یې جګړه ونه کړه، کندهار او بیا هند او وروسته ایټالیا ته ولاړ او په کال ۱۳۳۹ل، ل کې د ثور په میاشت کې د سویس په هیواد کې د هجران او غریبۍ په حال کې وفات شو. ﴿إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ﴾ [البقرة: ۱۵۶]
که چېرې د سقاؤ او انګریزانو، د اړیکو په تړاؤ او د انګریزانو د هغو دسیسو په اړه، چې امان الله خان ته یې د سقاؤ او نورو غدارانو په وجود کې جوړولې، ژوره څېړنه وشي او انګریزي ارشیفونو ته لاس


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

رسی وموندل شي، (لکه څه ډول چي ليکوالي ريه تالي ويلي دي) زه ډاډه يم چي ډېر حيرانوونکي اسناد به تر لاسه شي، پورته مالومات يوازې (مُشت نمونه خروار) يوه سرسري څېړنه ده، دا پر موږ باندې د دغه مترقي، ملي اتل او پر هيواد مين پاچا حق دی چي په اړه يي د انګرېزانو غداری او هم د داخلي غدارانو توطيي رسوا کړو.

په درنښت

**پورته ليکنه د لاندې سرچينو پر بنسټ ليکل شوي ده:**

ـ کانديد اکاډميسين محمد ابراهيم عطايي: دافغانستان پر معاصر تاريخ يوه لنډه کتنه
ـ ريه تالي ستيوآرت؛ اور په افغانستان کي
ـ عبدالغفار خان: زما ژوند او جدو جهد.
ـ ميرغلام محمد غبار: افغا نستان در مسير تاريخ
ـ ډاکټر ويکتور ګريکوويچ کارګون: افغانستان در سالهای بيست و سي، قرن بيستم ميلادي

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ